له فرض لمانځه وروسته او

# د سهار او ماښام

# أذكار

## له حصن المسلم کتاب څخه

ژباړه او ترتیب

صحیح حدیث پښتو

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الله تعالی د ذکر[۱] فضیلت

الله تعالی فرمايي: {فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُواْ لِي وَلاَ تَكْفُرُونِ}[۲] ژباړه: نو تاسې ما یاد کړئ، زه به تاسې یاد کړم او زما شکر وکړئ او نا شکري مه کوئ

او فرمايي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْراً كَثِيراً}[۳]،

ژباړه: ای مومنانو د الله تعالی ذکر کوئ، زیات ذکر.

او فرمايي: {وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيراً وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْراً عَظِيماً}[٤]

ژباړه: هغه سړي چې الله تعالی ډېر یادوي او هغه ښځې چې الله تعالی ډېر یادوي، د دوی لپاره الله تعالی بښنه او لوی اجر تیار کړی دی

او نبي ﷺ فرمايي: « د هغه سړي مثال چې د الله تعالی ذکر کوي او هغه چې يې نه کوي، داسې دی لکه ژوندی و مړ »[٥]

بل ځای فرمايي: «ایا زه تاسې ته ستاسې په اعمالو کې د غوره عمل خبر در نکړم، چې د الله تعالی پر وړاندې تر ټولو پاک دی، ستاسې درجې بلندوونکی دی او ستاسې لپاره، د سرو او سپینو زرو له خیراته غوره دی او له دې هم غوره دی

---

(۱) ذکر د عربی ژبې توری دی، په پښتو کې د یاد مانا ورکوي، عرب وايي: ذکره فلان: فلاني یاد کړ.

(۲) البقرة: ۱٥۲

(۳) الأحزاب: ٤۱

(٤) الأحزاب: ۳٥

(٥) صحیح بخاري: ٦٤۰۷ او مسلم: ۷۷۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تاسې د خپل دښمن سره مخامخ شئ؛ نو تاسې د هغوی څټونه ووهئ او هغوی ستاسې څټونه ووهي؟» هغوی وویل: ولې نه خبر راکړه، هغه وفرمایل: «د الله تعالی ذکر کول»[۱]

او فرمایي: «څوک چې په یو مجلس کې کېناست او د الله تعالی ذکر یې په کې ونه کړ، نو پر ده به الله تعالی له پلوه د قیامت پر ورځ یو نقصان او کمی وي او څوک چې پر یو ځای څملاست او هلته یې د الله تعالی ذکر ونه کړ، نو پر ده به د الله تعالی له پلوه یو نقص او ملامتیا وي»[۲]

(۱) سنن ترمذي: ۳۳۷۵، سنن ابن ماجه: ۱۲٤٦

(۲) ابو داود: ٤٨٦٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له فرض لمانځه وروسته ذکر

۱- «أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ»[۱] ژباړه: زه له الله تعالى څخه بښنه غواړم درې ځله

۲- «اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ، وَمِنْكَ السَّلاَمُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلاَلِ وَالْإِكْرَامِ»[۲]

ژباړه: یا الله تعالی ته له ټولو عیبونو څخه پاک یې، ستا له پلوه سلامتیا ده، ته د برکتونو خاوند یې، ای د لویي او عزت خاونده.

۳- «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»[۳] ، درې ځله

ژباړه: له الله تعالی پرته بل څوک د بندګی لایق نه شته، یواځې دی، شریک یې نه شته، د هغه لپاره پاچاهي ده، د هغه لپاره ثناء او د کمال صفتونه دي او هغه پر هر شي د قدرت خاوند دی.

۴- «اللهُمَّ لاَ مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلاَ مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلاَ يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ»[٤]

ژباړه: یا الله تعالی نه شته منع کوونکی د هغه څه چې تا ورکړی او نه شته ورکوونکی د هغه څه چې تا منع کړ او ستا په مقابل کې د هیڅ مرتبې خاوند ته هیڅ مرتبه ګټه نه

(۱) ابوداود: ۱٤۹٥ ترمذي: ۳٥٤٤

(۲) صحیح مسلم:٥۹۱

(۳) صحیح البخاري: شمیره ۸٤٤، صحیح مسلم: شمیره:٥۹۳

(٤) صحیح بخاري: ۲٥٥

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسـوي.

٥- «لَا إِلَـهَ إِلاَّ اللَّـهُ وَحْـدَهُ لاَ شَرِيـكَ لَـهُ، لَـهُ الْمُلْـكُ، وَلَـهُ الْحَمـدُ، وَهُـوَ عَـلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيـرٌ لاَ حَـوْلَ وَلاَ قُـوَّةَ إِلاَّ بِاللَّـهِ، لاَ إِلَـهَ إِلاَّ اللَّـهُ، وَلاَ نَعْبُـدُ إِلاَّ إِيَّـاهُ، لَـهُ النِّعْمَـةُ وَلَـهُ الْفَضْـلُ وَلَـهُ الثَّنَـاءُ الْحَسَـنُ، لَا إِلَـهَ إِلاَّ اللَّـهُ مُخْلِصِـينَ لَـهُ الدِّيـنَ وَلَـوْ كَـرِهَ الكَافِـرُونَ»[(١)]

ژبـاړه: لـه اللـه تعالـى پرتـه بـل څـوک د بندګـى لايـق نـه شـته، يواځـې دى، شريـک يـې نـه شـته، د هغـه لپـاره پاچاهـي ده، د هغـه لپـاره د کـمال صفتونـه دي او هغـه پـر هـر څـه قـادر دى، نـه شـته لـه بديـو منـع کېـدل او نـه د نيکيـو قـوت مګـر د اللـه تعالـى پـه مرسـته دى، لـه اللـه تعالـى پرتـه بـل څـوک د بندګـى لايـق نـه شـته، مـوږ يواځـې د هغـه بندګـي کـوو، د هغـه لپـاره نعمتونـه دي، د هغه لپـاره احسـانونه دي او د هغـه لپـاره ښايسـته ثنـاء او صفتونـه دي، لـه اللـه تعالـى پرتـه بـل څـوک د بندګـى لايـق نـه شـته، مـوږ د هغـه لپـاره پـه اخـلاص بندګـي کـوو، کـه څـه هـم کفـار يـې بـده ګڼـي.

٦- «سُـبْحَانَ اللَّـهِ وَالْحَمْـدُ اللَّـهِ، وَ اللَّـهُ أَكْـبَرُ ٣٣ ځلـه او د سـلم ځـل پـوره کولـو لپـاره: لاَ إِلَـهَ إِلاَّ اللَّـهُ وَحْـدَهُ لاَ شَرِيـكَ لَـهُ، لَـهُ الْمُلْـكُ وَلَـهُ الْحَمْـدُ وَهُـوَ عَـلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيـرٌ»[(٢)]

ژبـاړه: اللـه تعالـى لـره پاکـي ده، اللـه تعالـى لـره ثنـاء ده، اللـه تعالـى ډېـر لـوى دى، لـه اللـه تعالـى پرتـه بـل څـوک د بندګـى

---

(١) صحيح مسلم: ٥٩٤

(٢) صحيح مسلم: ٥٩٧د صحيح مسلم په همدغه روايت کې ورسره دا خبره هم ده چې فرمايي: «چا چې دغه کلمې د هر لمانځه وروسته وويلې نو د هغه ټول ګناهونه به وبښل شي که څه هم د سمندر د ځګ په اندازه هم وي»

(c) ketabton.com: The Digital Library

لایق نـه شـته، یواځـې دی، شریـک یـې نـه شـته، د هغـه لپـاره پاچاهـي ده او د هغـه لپـاره ثنـاء ده او  هغـه پـر هـر څـه قـادر دی.

٧- بِسْـمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـنِ الرَّحِيـمِ {قُـلْ هُـوَ اللَّـهُ أَحَـدٌ* اللَّـهُ الصَّمَـدُ * لَـمْ يَلِـدْ وَلَـمْ يُولَـدْ* وَلَـمْ يَكُـن لَّـهُ كُفُـواً أَحَـدٌ} بِسْــمِ اللَّــهِ الرَّحْمَـنِ الرَّحِيـمِ {قُـلْ أَعُـوذُ بِـرَبِّ الْفَلَـقِ* مِـن شَرِّ مَـا خَلَـقَ* وَمِـن شَرِّ غَاسِـقٍ إِذَا وَقَـبَ* وَمِـن شَرِّ النَّفَّاثَـاتِ فِي الْعُقَـدِ* وَمِـن شَرِّ حَاسِـدٍ إِذَا حَسَـدَ} بِسْـمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـنِ الرَّحِيـمِ {قُـلْ أَعُـوذُ بِـرَبِّ النَّـاسِ* مَلِـكِ النَّـاسِ* إِلَـهِ النَّـاسِ* مِـن شَرِّ الْوَسْـوَاسِ الْخَنَّـاسِ * الَّـذِي يُوَسْـوِسُ فِي صُـدُورِ النَّـاسِ* مِـنَ الْجِنَّـةِ وَالنَّـاسِ}[1] دا سـورتونه بـه د هـر فـرض لمانځـه څخـه وروسـته وایـي

ژبـاړه: د اللـه تعالـی پـه نـوم شروع کـوم چـې زیـات مهربـان او تـل رحـم کوونکـی دی، تـه ووایـه: دغـه چـې تاسـې یـې پـه اړه پوښـتنه کـوئ، اللـه تعالـی دی، یـو دی، اللـه تعالـی چـا تـه محتـاج نـه دی او ټـول مخلـوق اللـه تعالـی تـه محتـاج دی، نـه لـه ده څـوک زیږېدلـی دی او نـه دی لـه چـا زیږېدلـی دی او  نـه شـته د هغـه پـه څېـر هیـڅ څـوک. د اللـه تعالـی پـه نـوم شروع کـوم چـې زیـات مهربـان او تـل رحـم کوونکـی دی، تـه ووایـه: زه پناه نیسـم د سبا پـه رب پـورې* د شر د هــر هغــه څــه څخــه چــې اللــه تعالــی پیــدا کــړي دي* او د شــپې لــه شر څخــه کلــه چــې تیــاره شي او  د شر لـه هغـو ښـځو څخـه چـې پـه غوټـو کـې پـوک وهونکـې

(١)  أبو داود:١٥٢٣ دغه حدیث ترمذي پر ٢٩٠٣ شمېره، نسائي پر ١٣٣٥شمېره هم روایت کړی او  دغو درې سورتونو ته معوذات هم وايي: وګوره فتح الباري: ٩/ ٦٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي* او د شر له حسد کوونکي څخه کله چې حسد راښکاره کړي د الله تعالی په نوم شروع کوم چې زيات مهربان او تل رحم کوونکی دی ته ووايه: زه پناه نيسم په رب د خلکو * چې د خلکو پاچاه دی* د خلکو معبود دی* د شر د وسوسې اچوونکي څخه چې تښتېدونکی دی* هغه چې د خلکو په سينو کې وسوسې اچوي* دغه وسوسې اچوونکي د پېريانو او خلکو څخه دي.

۸- «{اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ لَّهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ وَلاَ يَؤُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ} له هر لمانځه وروسته»[۱]

ژباړه: الله تعالی هغه ذات دی چې نه شته لايق د بندګی مګر يواځې همدی دی، تل ژوندی دی، د ټولو کائناتو نظام چلوونکی دی، پر ده پرکالي او خوب نه راځي، په اسمانونو او ځمکو کې هر څه يواځې د همده دي، هغه څوک دی چې د ده پر وړاندې سپارش وکړي؟! مګر د ده په اجازت، دی پر هغه څه پوهېږي چې د دوی پر وړاندې او له دوی وروسته دي او مخلوق د ده تعالی هيڅ علم نه شي راګېرولی، مګر

(۱) امام نسائي په عمل اليوم والليلة کې په ۱۰۰شمېره راوړی په دغه حديث کې دا هم راغلي دي: «څوک چې ايت الکرسي له هر فرض لمانځه وروسته ووايي نو له جنت څخه به يواځې د مرګ له امله بند وي» دغه حديث ابن سني په ۱۲۱شمېره روايت کړی، الباني ورته په صحيح الجامع ۵-۳۳۹ کې صحيح ويلی ايت الکرسي د سورت بقره ۲۵۵ ايت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پـر هغـه څـه چـې دی تعالـى يـې وغـواړي، د هغـه تعالـى كـرسي لـه اسـمانونو او ځمكـې څخـه پراخـه ده، د دې دواړو -اسـمان او ځمكـې- سـاتل هغـه تعالـى نـه سـتړى كـوي.

۹- «لاَ إِلَـهَ إِلاَّ اللَّـهُ وَحْـدَهُ لاَ شَرِيـكَ لَـهُ، لَـهُ الْمُلْـكُ وَلَـهُ الْحَمْـدُ يُحْيِــي وَيُمِيــتُ وَهُــوَ عَـلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيــرٌ»[۱] دا بــه د ســهار او ماښــام لــه لمانځــه وروســته لــس ځلــه وايــي

ژبـاړه: لـه اللـه تعالـى پرتـه بـل څـوک د بندگـۍ لایـق نـه شـته، یواځـې دی، شریـک یـې نـه شـته، د هغـه لپـاره پاچاهـي ده او د هغـه لپـاره ثنـاء ده، هغـه ژونـدي كـول او مـړه كـول كـوي او هغـه پـر هـر څـه قـدرت لرونكـى دى.

۱۰- «اللَّهُـمَّ إِنِّي أَسْـأَلُكَ عِلْـماً نافِعـاً، وَرِزْقـاً طَيِّبـاً، وَعَمَـلاً مُتَقَبَّلاً»[۲] د سـهار لمانځه وروسـته

ژبـاړه: يـا اللـه زه لـه تـا گټـوره پوهـه، پـاک رزق او قبـول كـړى شـوى عمـل غـواړم.

(۱) سنن ترمذي: ۵- ۵۱۵
(۲) ابن ماجه: ۹۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سهار اذکار

الْحَمْدُ لِلَّهِ وَحْدَهُ، وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى مَنْ لاَ نَبِيَّ بَعْدَهُ (١)

ژباړه: ټول د کمال صفتونه او ثناء يواځې الله تعالى لره ده او درود او سلام پر هغه نبي چې له هغه وروسته بل نبي نه شته

١- أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيطَانِ الرَّجِيمِ {اللَّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ لَّهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَاء وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ وَلاَ يَؤُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ} (٢)

ژباړه: زه په الله تعالى پورې له رټل شوي شيطان څخه پناه غواړم: الله تعالى هغه ذات دى چې نه شته لايق د بندگۍ مگر يواځې همدا دى، تل ژوندى دى، د ټولو کائناتو نظام چلوونکى دى، پر ده پرکالي او خوب نه راځي، په اسمانونو او

(١) له انس رضي الله عنه مرفوع حديث روايت دى، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «دا چې زه د يو قوم سره کېنم چې د سهار له لمانځه څخه د لمر خاته پورې د الله تعالى ذکر کوي، دا ماته له دې غوره ده چې د اسماعيل عليه السلام له اولاد څخه څلور مريان ازاد کړم او دا چې زه د يو قوم سره کېنم چې د مازيگر له لمانځه څخه تر لمر پرېواته د الله تعالى ذکر کوي، دا راته له دې غوره ده چې څلور مريان ازاد کړم» دغه حديث ابو داود پر ٣٦٦٧ شمېره روايت کړى او الباني ورته صحيح ابو داود کې حسن ويلى دى

(٢) سورت بقره: ٢٥٥ حديث کې راځي: «چا چې ايت الکرسي سهار وويله نو تر ماښامه به له پېريانو څخه خوندي وي او چا چې ماښام وويله نو تر سهاره به ترې خوندي وي» حديث حاکم روايت کړى ١-٥٦٢ او الباني ورته په صحيح الترغيب والترهيب ١-٢٧٣ کې صحيح ويلى او نسائي او طبراني ته يې د حديث نسبت کړى، ويلي يې دي د طبراني سند جيد دى

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکو کې هر څه يواځې د همده دي، هغه څوک دی چې  د ده پر وړاندې سپارش وکړي؟! مگر د ده په اجازت، دی پر هغه څه پوهېږي چې د دوی پر وړاندې او له دوی وروسته دي او دوی -مخلوق- د ده تعالی هيڅ علم نه شي راگېرولی، مگر پر هغه څه چې دی -الله تعالی- يې وغواړي، د هغه کرسي له اسمانونو او ځمکې پراخه ده، د دې دواړو -اسمان او ځمکې- ساتل هغه تعالی نه ستړی کوي، هغه تعالی ډېر اوچت او ډېر لوی دی.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ {قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُواً أَحَدٌ} بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ {قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ * مِن شَرِّ مَا خَلَقَ * وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ * وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ * وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ} بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ {قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ * مَلِكِ النَّاسِ * إِلَهِ النَّاسِ * مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ * الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ * مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ}(١) درې ځله

ژباړه: د الله تعالی په نوم شروع کوم چې زيات مهربان او تل رحم کوونکی دی، ته ووايه: دغه چې تاسې يې په اړه پوښتنه کوئ، الله تعالی دی، يو دی، الله تعالی چا ته محتاج نه دی او ټول مخلوق الله تعالی ته محتاج دی، نه له ده څوک

(١) سنن أبي داود، ٥٠٨٢ «چا چې دا سورتونه درې ځله سهار او درې ځله بيگاه وويل نو له هر څه به ورته دا بسنه وکړي» حديث ترمذي هم په ٣٥٧٥ روايت کړی او الباني ورته صحيح ويلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيږيدلی دی او نه دی له چا زيږيدلی دی او نه شته د هغه په څېر هيڅ څوک. د الله تعالی په نوم شروع کوم چې زيات مهربان او تل رحم کوونکی دی، ته ووايه: زه پناه نيسم د سبا په رب پورې ❋ د شر د هر هغه څه څخه چې الله تعالی پيدا کړی دی ❋ او د شر له شپې څخه کله چې تياره شي او د شر له هغو ښځو څخه چې په غوټو کې پوک وهونکې دي ❋ او د شر له حسد کوونکي څخه کله چې حسد راښکاره کړي. د الله تعالی په نوم شروع کوم چې زيات مهربان او تل رحم کوونکی دی ته ووايه: زه پناه نيسم په رب د خلکو ❋ چې د خلکو پاچاه دی ❋ د خلکو معبود دی ❋ د شر د وسوسې اچوونکي څخه چې تښتېدونکی دی ❋ هغه چې د خلکو په سينو کې وسوسې اچوي ❋ دغه وسوسې اچوونکي د پېريانو او خلکو څخه دي.

٣- «أَصْبَحْنَا وَأَصْبَحَ الْمُلْكُ لِلَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيرَ مَا فِي هَذَا الْيَوْمِ وَخَيرَ مَا بَعْدَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِي هَذَا الْيَوْمِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهُ، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسُوءِ الْكِبَرِ، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ»(١)

ژباړه: پر مونږ سهار شو، پاچاهي ټوله الله تعالی لره ده، ټوله ثناء او د کمال صفتونه الله تعالی لره دي، له الله تعالی پرته بل څوک د بندگی لايق نه شته، يواځې دی، شريک يې

(١) صحيح مسلم:٢٧٢٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شته، د هغه لپاره پاچاهي ده، د هغه لپاره ثناء ده او هغه پر هرڅه د قدرت خاوند دی، ای زما ربه زه له تا څخه د هغه څه خیر غواړم چې په دې ورځ کې دي او د هغه څه چې له دې وروسته دي، زه په تا پورې د هغه څه له شر څخه پناه غواړم چې په دې ورځ کې دي او د هغه څه له شر څخه چې له دې وروسته دي، ای ربه زه په تا پورې د ناراستی او له بد بوډا والي پناه غواړم، ای زما ربه زه په تا پورې د اور له عذابه او د قبر له عذابه پناه غواړم.

۴- «اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُورُ»(۱)

ژباړه: یا الله عزوجل ستا په حکم، مرسته او رحمت مونږ سهار کړ او ستا په حکم مونږ بیگاه کړ، ستا په حکم ژوندي کیږو او ستا په حکم به مرو او یوائې تاته مو درتلل دي.

۵- «اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ»(۲)

ژباړه: یا الله تعالی ته زما رب یې، نه شته لایق د بندگی مگر یوائې ته یې، تا زه پیدا کړی یم او زه ستا بنده یم، زه ستا په لوظ او وعده تر خپل توانه ولاړ یم، زه د هغه بدو عملونو له شره پناه غواړم چې ما کړي دي، د هغو نعمتونو اقرار کوم

(۱) ترمذي:۳۳۹۱

(۲) صحیح بخاري:۶۳۰۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تا پر ما کړي دي او هم د خپلې ګناه اعتراف او اقرار کوم، نو ماته بښنه وکړه، ځکه له تا پرته بل هيڅوګ د ګناه بښنه نه شي کولی.

٦- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَصْبَحْتُ أُشْهِدُكَ، وَأُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ، وَمَلَائِكَتَكَ، وَجَمِيعَ خَلْقِكَ، أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ وَحْدَكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ، وَأَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ» (١) څلور ځله

يا الله تعالى: پر ما سهار شو، زه تا ګواه کوم، ستا د عرش بارونکي ګواه کوم، ستا ملايکان او ستا ټول مخلوق ګواه کوم چې يواځې ته حق معبود يې، له تا پرته بل هيڅ حق معبود نه شته، ته يواځې يې، ستا سره شريک نه شته او پر دې دې ګواه کوم چې محمد ﷺ ستا بنده او پيغمبر دی.

٧- «اللَّهُمَّ مَا أَصْبَحَ بِي مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ فَمِنْكَ وَحْدَكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ، فَلَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ»(٢)

ژباړه: يا الله تعالى؛ پرما يا ستا له مخلوق څخه پر هيڅ يو تن کوم نعمت نه دی سبا کړی، مګر دغه نعمت يواځې ستا له پلوه دی، ستا سره هيڅ شريک نه شته، نو ستا لپاره د کمال صفتونه دي او ستا لپاره شکر دی.

---

(١) ابوداود: ٥٠٧١ په دغه حديث کې دا هم دي: «چا چې دا دعاء سبا او يا بيګاه څلور ځله وويله نو الله تعالى به يې له اور څخه ازاد کړي» دا حديث په ادب مفرد کې امام بخاري رحمه الله هم په ١٢٠١شمېره راوړی او نسائي په عمل اليوم والليله کې په ٩ شمېره هم راوړی

(٢) ابوداود: ٥٠٧٥ په دغه حديث کې دا هم راغلي دي: «چا چې دا دعاء په سهار کې وويله نو هغه د خپلې دغې ورځې شکر اداء کړ او چا چې ماښام وويله نو د دغې شپې شکر يې اداء کړ» امام نسائي رحمه الله په عمل اليوم والليله کې په ٧ شمېره راوړی، ابن سني رحمه الله په ٤١ شمېره ابن حبان رحمه الله په موارد کې په ٢٣٦١ شمېره راوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

٨- «اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي بَدَنِي، اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي سَمْعِي، اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي بَصَرِي، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكُفْرِ، وَالفَقْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ»(١) درې ځله

ژباړه: يا الله تعالى؛ ما ته په خپل بدن كې روغتيا راكړې، ما ته په خپلو غوږونو كې روغتيا راكړې، ما ته په خپلو سترګو كې روغتيا راكړې، نه شته لايق د بندګۍ مګر يواځې ته يې، يا الله تعالى زه په تا پورې له كفر او فقر څخه پناه غواړم او زه په تا پورې د قبر له عذابه پناه غواړم، نه شته لايق د بندګۍ مګر يواځې ته يې.

٩- «حَسْبِيَ اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ»(٢) اووه ځله

زما لپاره الله تعالى بسنه كوي، نه شته لايق د بندګۍ مګر يواځې هغه دى، پر هغه زما توكل دى او هغه تعالى د لوى عرش خاوند دى.

١٠- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ: فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي، وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي، وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ، وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي، وَعَنْ شِمَالِي، وَمِنْ فَوْقِي،

---

(١) مسند احمد ٢٠٤٣٠، عمل اليوم والليله ٢٢ ابن السني ٦٩ الادب المفرد ٧٠١

(٢) ابوداود: ٥٠٨١ «چا چې دا كلمې سهار او بيګاه اووه ځله وويلې نو الله تعالى به يې د دنيا او آخرت د هغه كار په اړه كافي شي چې دى فكرمند كړى دى»، دغه روايت ابن سني په ٧١ مرفوع روايت كړى، زاد المعاد كې هم روايت شوى ٢-٣٧٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَأَعُـوذُ بِعَظَمَتِـكَ أَنْ أُغْتَـالَ مِـنْ تَحْتِـي»[۱]

ژباړه: یـا اللـه تعالـی؛ زه پـه دنیـا او آخـرت کـې لـه تـا خونـدي تـوب او ښـنه غـواړم، یـا اللـه تعالـی؛ زه لـه تـا څخـه پـه خپـل ديـن، دنيـا، کورنـۍ او مـال کـې خونديتـوب او ښـنه غـواړم، يـا اللـه تعالـی؛ زمـا پـرده وسـاتې، زمـا وېـره پـه امـن بدلـه کـړې، يـا الله تعالـی؛ مـا لـه مخـې خـوا، لـه شـا خـوا، لـه ښـۍ خـوا، لـه چپـې خـوا او لـه بـرې خـوا وسـاتې او زه سـتا پـر لويـۍ پـورې لـه دې پنـاه نيسـم چـې پـه نـا څاپـي ډول لـه لانـدې خـوا څخـه هـلاک کـړی شـم.

۱۱- «اللَّهُـمَّ عَالِـمَ الغَيْـبِ وَالشَّـهَادَةِ فَاطِـرَ السَّـمَوَاتِ وَالْأَرْضِ، رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَـهُ، أَشْـهَدُ أَنْ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ أَنْـتَ، أَعُـوذُ بِـكَ مِـنْ شَرِّ نَفْسِي، وَمِـنْ شَرِّ الشَّـيْطَانِ وَشَرَكِـهِ، وَأَنْ أَقْـتَرِفَ عَـلَى نَفْسِي سُـوءاً، أَوْ أَجُـرَّهُ إِلَى مُسْـلِمٍ»[۲]

ژباړه: یـا اللـه تعالـی چـې پـر پټـو او ښـکاره پـوه يـې، د اسـمانونو او ځمکـې پیـدا کوونکـی يـې، د هـر څـه پالونکـی او پاچـاه يـې، زه پـر دې ګواهـي ورکـوم چـې نـه شـته لايـق دی بندګـۍ مګـر يواځـې تـه يـې، زه پـه تـا پـورې د خپـل نفـس لـه شر څخـه پنـاه نيسـم او د شـيطان لـه شر او شريکولوڅخـه پنـاه غـواړم او لـه دې څخـه پنـاه غـواړم چـې زه پـه خپلـه ګنـاه وکـړم او يـا يـې بـل مسـلمان تـه کـش کـړم.

۱۲- «بِسْـمِ اللَّـهِ الَّـذِي لاَ يَـضُرُّ مَـعَ اسْـمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلاَ فِي

---

(۱) ابوداود: ۵۰۷٤، ابن ماجه: ۳۸۷۱

(۲) ابوداود: ، ۵۰٦۷، سنن ترمذي: ۳۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

السَّـمَاءِ وَهُـوَ السَّـمِيعُ الْعَلِيـمُ» [(١)] درې ځلـه

د اللـه تعالـی پـه نـوم چـې د هغـه د نـوم سره پـه ځمکـه او اسـمان کـې څـه شـی ضرر نـه شي رسـولی او هغـه اورېدونکـی او پـوه دی.

١٣- «رَضِيـتُ بِاللَّـهِ رَبًّـاً، وَبِالْإِسْـلاَمِ دِينـاً، وَبِمُحَمَّـدٍ - ﷺ - نَبِيّـاً» [(٢)] درې ځلـه

زه پـر دې خـوښ يـم چـې اللـه تعالـی مـې رب دی او پـر دې خـوښ يـم چـې اسـلام مـې ديـن دی او پـر دې خـوښ يـم چـې محمـد ﷺ مـې نبـي دی.

١۴- «يَـا حَـيُّ يَـا قَيُّـومُ بِرَحْمَتِـكَ أَسْـتَغيثُ أَصْلِـحْ لِي شَـأْنِيَ كُلَّـهُ وَلاَ تَكِلْنِـي إِلَى نَفْـسِي طَرْفَـةَ عَـيْنٍ» [(٣)]

ای تـل ژونـدی او د ټولـو کائناتـو واکـدار او تدبيـر کوونکيـه؛ زه سـتا پـه رحمـت تاتـه فريـاد کـوم؛ زمـا ټـول کارونـه راسـم کـړه او مـا خپـل ځـان تـه د سـترگې د رف پـه انـدازه هـم مـه پرېـږدې.

١٥- «أَصْبَحْنَـا وَأَصْبَـحَ الْمُلْـكُ لِلَّـهِ رَبِّ الْعَالَمِـينَ، اللَّهُـمَّ إِنِّي أَسْـأَلُكَ خَـيْرَ هَـذَا الْيَوْمِ:فَتْحَـهُ، وَنَـصْرَهُ، وَنُـورَهُ، وَبَرَكَتَـهُ، وَهُـدَاهُ، وَأَعُـوذُ بِـكَ مِـنْ شَرِّ مَـا فِيـهِ وَشَرِّ مَـا بَعْـدَهُ» [(٤)]

---

(١) ابوداود: ٥٠٨٨ «چا چې دغه کلمه سهار او ماښام درې ځله وويله نو هيڅ شی به ورته ضرر ونه رسوي»، دا حديث ترمذي هم روايت کړی ٥-٤٦٥ او ابوداود ٤-٣٢٣

(٢) مسند احمد: ١٨٩٦٧ «چا چې دا دعاء سهار درې ځله او ماښام درې ځله وويله نو الله تعالی پر خپل ځان دا لازمه کړې چې د قيامت په ورځ به دغه بنده راضي کوي»، دغه روايت ابن سني په ٦٨ شمېره عمل اليوم والليله په ٤ او ابو داود په ١٥٣١ شمېره راوړی دی

(٣) صحيح الترغيب والترهيب: ١-٢٧٣

(٤) سنن ابي داود: ٥٠٨٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ سبا کړ او ټوله پاچاهي د الله رب العالمین ده، یا الله تعالی زه له تا څخه د دې ورځې د خیر، کامیابۍ، مرستې، رڼا، برکت او هدایت غوښتنه کوم او په تا پورې د دې ورځې له شر او له دې وروسته شر څخه پناه غواړم.

۱۶- «أَصْبَحْنَا عَلَى فِطْرَةِ الْإِسْلَامِ ، وَعَلَى كَلِمَةِ الْإِخْلَاصِ، وَعَلَى دِينِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ - ﷺ -، وَعَلَى مِلَّةِ أَبِينَا إِبْرَاهِيمَ، حَنِيفاً مُسْلِماً وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ»(۱)

مونږ د اسلام پر فطرت، د اخلاص پر کلمه، د محمد ﷺ پر دین او د خپل پلار ابراهیم علیه السلام -چې له شرک څخه پاک مسلمان و او له مشرکانو څخه نه و- پر ملت سبا کړ.

۱۷- «سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ»(۲) سل ځله

ژباړه: الله تعالی لره پاکي او د کمال صفتونه دي.

۱۸- «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ، وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»(۳) سل ځله

ژباړه: له الله تعالی پرته بل څوک د بندګۍ لایق نه شته، یواځې دی، شریک یې نه شته، د هغه لپاره پاچاهي او ثناء ده

(۱) مسند احمد ۱۵۳۶۰

(۲) مسلم: ۲۶۹۲ په دغه حدیث کې دا هم دي: «چاچې سهار او ماښام سل ځله وویله نو د قیامت په ورځ به له ده څه د هیڅ چا عمل غوره نه وي مګر هغه سړی چې د ده په څېر یې ویلي وي، یا یې له ده زیات ویلي وي»

(۳) صحیح بخاري: ۳۲۹۳، صحیح مسلم: ۲۶۹۱ «چا چې په ورځ کې سل وراې وویله نو د هغه به د لسو مریانو د ازادولو په اندازه ثواب وشي، سل نیکیانې به یې ولیکل شي او سل ګناهونه به یې وبښل شي، پر دغې ورځ به تر ماښامه له شیطانه خوندي وي او له ده به څوک غوره عمل رانوړي مګر هغه څوک چې له ده زیات عمل وکړي»

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغـه پـر هـر څـه د قـدرت خاونـد دی.

۱۹- «سُـبْحَانَ اللَّـهِ وَبِحَمْـدِهِ: عَـدَدَ خَلْقِـهِ، وَرِضَـا نَفْسِـهِ، وَزِنَةَ عَرْشِـهِ، وَمِـدَادَ كَلِمَاتِـهِ»[۱] درې ځله

الله تعالـی لـره پاکـي او ثنـاء ده، د هغـه د مخلـوق د شـمار پـه انـدازه، د هغـه د نفـس د رضـا پـه انـدازه، د هغـه د عـرش د وزن پـه انـدازه او د هغـه تعالـی د کلمـو د سـاهي پـه انـدازه.

۲۰- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْماً نَافِعاً، وَرِزْقاً طَيِّباً، وَعَمَلاً مُتَقَبَّلاً»[۲]

ژبـاړه: يـا اللـه تعالـی زه لـه تـا څخـه د ګټـورې پوهـې، د پراخـه رزق او سـتا پـه دربـار کـې د منـل شـوي عمـل غوښـتنه کـوم.

۲۱- «أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ»[۳] په ورځ کې سل ځله

ژبـاړه: زه لـه اللـه تعالـی څخـه بښـنه غـواړم او هغـه تـه توبـه وباسـم.

۲۲- «اللَّهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ ﷺ»[٤]، لس ځله

یا الله تعالی ته زموږ پر نبي محمد ﷺ درود او سلام ولېږه .

---

(۱) صحیح مسلم: ۲۷۲٦

(۲) ابن السني په عمل الیوم واللیله ٥٤ ابن ماجه ۹۲٥

(۳) صحیح بخاري: ٦۳۰۷، صحیح مسلم: ۲۷۰۲

(٤) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «چا چې پر ما سهار مهال لس ځله او بیګاه مهال لس ځله درود ووایه، نو د قیامت پر ورځ به یې زما شفاعت راګېر کړي» دا حدیث طبراني په دوه سندونو کې روایت کړی دی، چې یو یې جید دی، مجمع الزوائد: ۱۰-۱۲۰، صحیح الترغیب والترهیب: ۱-۲۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ماښام اذکار

الْحَمْدُ لِلَّهِ وَحْدَهُ، وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى مَنْ لاَ نَبِيَّ بَعْدَهُ (۱)

ژباړه: ټول د کمال صفتونه او ثناء يواځې الله تعالی لره ده او درود او سلام پر هغه نبي چې له هغه وروسته بل نبي نه شته

۱- أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيطَانِ الرَّجِيمِ {اللَّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلاَ نَوْمٌ لَّهُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَمَا فِي الأَرْضِ مَن ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلاَّ بِمَا شَاء وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ وَلاَ يَؤُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ} (۲)

ژباړه: زه په الله تعالی پورې له رټل شوي شيطان څخه پناه غواړم: الله تعالی هغه ذات دی چې نه شته لايق د بندګی مګر يواځې همدا دی، تل ژوندی دی، د ټولو کائناتو نظام چلوونکی دی، پر ده پرکالي او خوب نه راځي، په اسمانونو او

(۱) له انس رضي الله عنه مرفوع حديث روايت دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «دا چې زه د يو قوم سره کېنم چې د سهار له لمانځه څخه د لمر خاته پورې د الله تعالی ذکر کوي، دا ماته له دې غوره ده چې د اسماعيل عليه السلام له اولاد څخه څلور مريان ازاد کړم او دا چې زه د يو قوم سره کېنم چې د مازيګر له لمانځه څخه تر لمر پرېواته د الله تعالی ذکر کوي، دا راته له دې غوره ده چې څلور مريان ازاد کړم» دغه حديث ابو داود پر ۳۶۶۷ شمېره روايت کړی او الباني ورته صحيح ابو داود کې حسن ويلی دی

(۲) سورت بقره: ۲۵۵ حديث کې راځي: «چا چې ايت الکرسي سهار وويله نو تر ماښامه به له پېريانو څخه خوندي وي او چا چې ماښام وويله نو تر سهاره به ترې خوندي وي» حديث حاکم روايت کړی ۱-۵۶۲ او الباني ورته په صحيح الترغيب والترهيب ۱-۲۷۳ کې صحيح ويلی او نسائي او طبراني ته يې د حديث نسبت کړی، ويلي يې دي د طبراني سند جيد دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکو کې هر څه يواځې د همده دي، هغه څوک دی چې د ده پر وړاندې سپارش وکړي؟! مګر د ده په اجازت، دی پر هغه څه پوهېږي چې د دوی پر وړاندې او له دوی وروسته دي او دوی -مخلوق- د ده تعالی هيڅ علم نه شي راګېرولی، مګر پر هغه څه چې دی -الله تعالی- يې وغواړي، د هغه کرسي له اسمانونو او ځمکې پراخه ده، د دې دواړو -اسمان او ځمکې- ساتل هغه تعالی نه ستړی کوي، هغه تعالی ډېر اوچت او ډېر لوی دی.

{آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ * لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ}.

رسول پر هغه څه ايمان راوړی؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ايمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملايکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو باندې (او وايي) مونږه د هغه (الله) په رسولانو کې د هيچا په مينځ کې تفريق نه کوو او وايي: مونږ واورېدل او مونږ خبره ومنله (مونږ) ستا (نه) بخښنه (غواړو) ای زمونږه ربه! او خاص تا ته بېرته درتګ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او الله هېڅ يو نفس نه مکلف کوي مګر د هغهٔ له توان سره سم، د همدهٔ لپاره دي څه نېکۍ چې ده کړي دي او په همدغه (نفس) باندې دي څه (ګناهونه) چې ده کړي دي، ای زمونږه ربه! مونږ مه نيسه که مونږ (څه حکم) هېر کړو، يا مونږ غلطي وکړو، ای زمونږه ربه! او په مونږ باندې بوج مه ږده؛ لکه څنګه چې تا هغه (بوج) ايښی و په هغو خلقو باندې چې له مونږ نه مخکې وو، ای زمونږه ربه! او پر مونږ باندې داسې څه مه راباروه چې په مونږ کې د هغو (د اوچتولو) هېڅ طاقت نه وي او مونږ ته معافي وکړه او مونږه وبخښه او پر مونږ رحم وکړه، هم ته زمونږ کارساز يې، نو د کافر قوم په خلاف ته زمونږ مدد وکړه.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ {قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُواً أَحَدٌ} بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ {قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ * مِن شَرِّ مَا خَلَقَ * وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ * وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ * وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ} بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ {قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ * مَلِكِ النَّاسِ * إِلَهِ النَّاسِ * مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ * الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ * مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ}[١]

درې ځله

ژباړه: د الله تعالی په نوم شروع کوم چې زيات مهربان او

---

(١) سنن أبي داود، ٥٠٨٢ «چا چې دا سورتونه درې ځله سهار او درې ځله بيګاه وويل نو له هر څه به ورته دا بسنه وکړي» حديث ترمذي هم په ٣٥٧٥ روايت کړی او الباني ورته صحيح ويلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تــل رحــم کوونکــی دی، تــه ووایــه: دغــه چــې تاســې یــې پــه اړه پوښــتنه کــوئ، اللــه تعالــی دی، یــو دی، اللــه تعالــی چــا تــه محتــاج نــه دی او ټــول مخلــوق اللــه تعالــی تــه محتــاج دی، نــه لــه ده څــوک زیږېدلــی دی او نــه دی لــه چــا زیږېدلــی دی او نــه شــته د هغــه پــه څېــر هیــڅ څــوک. د اللــه تعالــی پــه نــوم شروع کــوم چــې زیــات مهربــان او تــل رحــم کوونکــی دی، تــه ووایــه: زه پنــاه نیســم د سبا پــه رب پــورې* د شر د هــر هغــه څــه څخــه چــې اللــه تعالــی پیــدا کــړی دی* او د شر لــه شــپې څخــه کلــه چــې تیــاره شي او د شر لــه هغــو ښــځو څخــه چــې پــه غوټــو کــې پــوک وهونکــې دي* او د شر لــه حســد کوونکــي څخــه کلــه چــې حســد راښــکاره کــړي. د اللــه تعالــی پــه نــوم شروع کــوم چــې زیــات مهربــان او تــل رحــم کوونکــی دی تــه ووایــه: زه پنــاه نیســم پــه رب د خلکــو* چــې د خلکــو پاچــاه دی* د خلکــو معبــود دی* د شر د وسوســې اچوونکــي څخــه چــې تښــتېدونکی دی* هغــه چــې د خلکــو پــه سینو کــې وسوســې اچــوي* دغــه وسوســې اچوونکــي د پېریانــو او خلکــو څخــه دي.

۳- «أَمْسَيْنَا وأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، رَبِّ أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَخَيرَ مَا بَعْدَهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْكَسَلِ وَسُوءِ الْكِبَرِ، رَبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابٍ فِي النَّارِ وَعَذَابٍ فِي الْقَبْرِ»(۱)

(۱) صحیح مسلم:۲۷۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: پر مونږ ماښام شو، پاچاهي ټوله الله تعالی لره ده، ټوله ثناء او د کمال صفتونه الله تعالی لره دي، له الله تعالی پرته بل څوک د بندګی لایق نه شته، یواځې دی، شریک یې نه شته، د هغه لپاره پاچاهي ده، د هغه لپاره ثناء ده او هغه پر هرڅه د قدرت خاوند دی، ای زما ربه زه له تا څخه د هغه څه خیر غواړم چې په دې شپه کې دي او د هغه څه چې له دې وروسته دي، زه په تا پورې د هغه څه له شر څخه پناهي غواړم چې په دې شپه کې دي اود هغه څه له شر څخه چې له دې وروسته دي، ای ربه زه په تا پورې د ناراستی او له بد بوډا والي پناه غواړم، ای زما ربه زه په تا پورې د اور له عذابه او د قبر له عذابه پناه غواړم.

۴- «اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ»[۱]

ژباړه: یا الله عزوجل ستا په حکم، مرسته او رحمت مونږ سهار کړ او ستا په حکم مونږ بیګاه کړ، ستا په حکم ژوندي کیږو او ستا په حکم به مرو او یواځې تاته مو درتلل دي.

۵- «اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ»[۲]

ژباړه: یا الله تعالی ته زما رب یې، نه شته لایق د بندګی مګر

(۱) ترمذي:۳۳۹۱

(۲) صحیح بخاري:۶۳۰۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

يواځې ته يې، تا زه پيدا کړی يم او زه ستا بنده يم، زه ستا په لوظ او وعده تر خپل توانه ولاړ يم، زه د هغه بدو عملونو له شره پناه غواړم چې ما کړي دي، د هغو نعمتونو اقرار کوم چې تا پر ما کړي دي او هم د خپلې ګناه اعتراف او اقرار کوم، نو ماته بښنه وکړه، ځکه له تا پرته بل هيڅوک د ګناه بښنه نه شي کولی.

٦- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَمْسَيْتُ أُشْهِدُكَ، وَأُشْهِدُ حَمَلَةَ عَرْشِكَ، وَمَلاَئِكَتَكَ، وَجَمِيعَ خَلْقِكَ، أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ وَحْدَكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ، وَأَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ» (١) څلور ځله

ژباړه: يا الله تعالى: پر ما ماښام شو، زه تا ګواه کوم، ستا د عرش بارونکي ګواه کوم، ستا ملايکان او ستا ټول مخلوق ګواه کوم چې يواځې ته حق معبود يې، له تا پرته بل هيڅ حق معبود نه شته، ته يواځې يې، ستا سره شريک نه شته او پر دي دي ګواه کوم چې محمد ﷺ ستا بنده او پيغمبر دی.

٧- «اللَّهُمَّ مَا أَمْسَى بِي مِنْ نِعْمَةٍ أَوْ بِأَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ فَمِنْكَ وَحْدَكَ لاَ شَرِيكَ لَكَ، فَلَكَ الْحَمْدُ وَلَكَ الشُّكْرُ»(٢)

ژباړه: يا الله تعالى؛ پرما يا ستا له مخلوق څخه پر هيڅ يو

---

(١) ابوداود: ٥٠٧١ په دغه حديث کې دا هم دي: «چا چې دا دعاء سبا او يا بيګاه څلور ځله وويله نو الله تعالى به يې له اور څخه ازاد کړي» دا حديث په ادب مفرد کې امام بخاري رحمه الله هم په ١٢٠١شمېره راوړی او نسائي په عمل اليوم والليله کې په ٩ شمېره هم راوړی

(٢) ابوداود: ٥٠٧٥ په دغه حديث کې دا هم راغلي دي: «چا چې دا دعاء په سهار کې وويله نو هغه د خپلې دغې ورځې شکر اداء کړ او چا چې ماښام وويله نو د دغې شپې شکر يې اداء کړ» امام نسائي رحمه الله په عمل اليوم والليله کې په ٧ شمېره راوړی، ابن سني رحمه الله په ٤١ شمېره ابن حبان رحمه الله په موارد کې په ٢٣٦١ شمېره راوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـن کـوم نعمـت ماښـام کـړی نـه دی، مګـر دغـه نعمـت یواځـې ستا لـه پلـوه دی، سـتا سره هیـڅ شریـک نـه شـته، نـو سـتا لپـاره د کـمال صفتونـه دي او سـتا لپـاره شـکر دی.

٨- «اللَّهُـمَّ عَافِنِـي فِي بَـدَنِي، اللَّهُـمَّ عَافِنِـي فِي سَـمْعِي، اللَّهُـمَّ عَافِنِـي فِي بَـصَرِي، لاَ إِلَـهَ إِلاَّ أَنْـتَ اللَّهُـمَّ إِنِّي أَعُـوذُ بِـكَ مِـنَ الْكُفْـرِ، وَالفَقْـرِ، وَأَعُـوذُ بِـكَ مِـنْ عَـذَابِ القَـبْرِ، لاَ إِلَـهَ إِلاَّ أَنْـتَ» [١] درې ځلـه

ژبـاړه: یـا اللـه تعالـی؛ مـا تـه پـه خپـل بـدن کـې روغتیـا راکـړې، مـا تـه پـه خپلـو غوږونـو کـې روغتیـا راکـړې، مـا تـه پـه خپلـو سـترګو کـې روغتیـا راکـړې، نـه شـته لایـق د بندګـۍ مګـر یواځـې تـه یـې، یـا اللـه تعالـی زه پـه تـا پـورې لـه کفـر او فقـر څخـه پنـاه غـواړم او زه پـه تـا پـورې د قـبر لـه عذابـه پنـاه غـواړم، نـه شـته لایـق د بندګـۍ مګـر یواځـې تـه یـې.

٩- «حَسْـبِيَ اللَّـهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُـوَ عَلَيْـهِ تَوَكَّلْـتُ وَهُـوَ رَبُّ الْعَـرْشِ الْعَظِيـمِ» [٢] اووه ځلـه

زمـا لپـاره اللـه تعالـی بسـنه کـوي، نـه شـته لایـق د بندګـۍ مګـر یواځـې هغـه دی، پـر هغـه زمـا تـوکل دی او هغـه تعالـی د لـوی عـرش خاونـد دی.

١٠- «اللَّهُـمَّ إِنِّي أَسْـأَلُكَ الْعَفْـوَ وَالْعَافِيَـةَ فِي الدُّنْيَـا وَالآخِـرَةِ، اللَّهُـمَّ

(١) مسند احمد ٢٠٤٣٠، عمل اليوم والليله ٢٢ ابن السني ٦٩ الادب المفرد ٧٠١

(٢) ابوداود: ٥٠٨١ «چا چې دا کلمې سهار او بیګاه اووه ځله وویلې نو الله تعالی به یې د دنیا او آخرت د هغه کار په اړه کافي شي چې دی فکرمند کړی دی»، دغه روایت ابن سني په ٧١ مرفوع روایت کړی، زاد المعاد کې هم روایت شوی ٢-٣٧٦

(c) ketabton.com: The Digital Library

إِنِّي أَسْأَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ: فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي، وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي، وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ، وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي، وَعَنْ شِمَالِي، وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي»(۱)

ژباړه: یا الله تعالی؛ زه په دنیا او آخرت کې له تا خوندي توب او ښېنه غواړم، یا الله تعالی؛ زه له تا څخه په خپل دین، دنیا، کورنۍ او مال کې خوندیتوب او ښېنه غواړم، یا الله تعالی؛ زما پرده وساتې، زما وېره په امن بدله کړې، یا الله تعالی؛ ما له مخې خوا، له شا خوا، له ښۍ خوا، له چپې خوا او له برې خوا وساتې او زه ستا پر لویۍ پورې له دې پناه نیسم چې په نا ځاپي ډول له لاندې خوا څخه هلاک کړی شم.

۱۱- «اللَّهُمَّ عَالِمَ الغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ، رَبَّ كُلِّ شَيْءٍ وَمَلِيكَهُ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي، وَمِنْ شَرِّ الشَّيْطَانِ وَشَرَكِهِ، وَأَنْ أَقْتَرِفَ عَلَى نَفْسِي سُوءاً، أَوْ أَجُرَّهُ إِلَى مُسْلِمٍ»(۲)

ژباړه: یا الله تعالی چې پر پټو او ښکاره پوه یې، د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی یې، د هر څه پالونکی او پاچاه یې، زه پر دې ګواهي ورکوم چې نه شته لایق دی بندګی مګر یواځې ته یې، زه په تا پورې د خپل نفس له شر څخه پناه نیسم او د شیطان له شر او شریکولوڅخه پناه غواړم او له دې څخه

---

(۱) ابوداود: ۵۰۷٤، ابن ماجه: ۳۸۷۱

(۲) ابوداود: ، ۵۰٦۷، سنن ترمذي: ۳۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

پناه غواړم چې زه په خپله ګناه وکړم او یا یې بل مسلمان ته کش کړم.

۱۲- «بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لاَ يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلاَ فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ» (۱) درې ځله

د الله تعالی په نوم چې د هغه د نوم سره په ځمکه او اسمان کې څه شی ضرر نه شي رسولی او هغه اوریدونکی او پوه دی.

۱۳- «رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلاَمِ دِيناً، وَبِمُحَمَّدٍ - ﷺ - نَبِيّاً» (۲) درې ځله

زه پر دې خوښ یم چې الله تعالی مې رب دی او پر دې خوښ یم چې اسلام مې دین دی او پر دې خوښ یم چې محمد ﷺ مې نبي دی.

۱۴- «يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ أَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ وَلاَ تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ» (۳)

ای تل ژوندی او د ټولو کائناتو واکدار او تدبیر کوونکیه؛ زه ستا په رحمت تاته فریاد کوم؛ زما ټول کارونه راسم کړه او ما خپل ځان ته د سترګې د رف په اندازه هم مه پریږدې.

۱۵- «أَمْسَيْنَا وأَمْسَى الْمُلْكُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ

---

(۱) ابوداود: ۵۰۸۸ «چا چې دغه کلمه سهار او ماښام درې ځله وویله نو هیڅ شی به ورته ضرر ونه رسوي»، دا حدیث ترمذي هم روایت کړی ۵-۴٦۵ او ابوداود ٤-۳۲۳

(۲) مسند احمد: ۱۸۹٦۷ «چا چې دا دعاء سهار درې ځله او ماښام درې ځله وویله نو الله تعالی پر خپل ځان دا لازمه کړې چې د قیامت په ورځ به دغه بنده راضي کوي»، دغه روایت ابن سني په ٦۸ شمیره عمل الیوم واللیله په ٤ او ابو داود په ۱۵۳۱ شمیره راوړی دی

(۳) صحیح الترغیب والترهیب: ۱-۲۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

خَيْرَ هَذِهِ اللَّيْلَةِ: فَتْحَهَا، وَنَصْرَهَا، وَنورَهَا، وَبَرَكَتَهَا، وَهُدَاهَا، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا فِيهَا وَشَرِّ مَا بَعْدَهَا»[١]

ژباړه: مونږ بیګاه کړ او ټوله پاچاهي د الله رب العالمین ده، یا الله تعالی زه له تا څخه د دې شپې د خیر، کامیابی، مرستې، رڼا، برکت او هدایت غوښتنه کوم او په تا پورې د دې شپې له شر او له دې څخه د وروسته شر څخه پناه غواړم.

١٦- «أَمْسَيْنَا عَلَى فِطْرَةِ الْإِسْلَامِ ، وَعَلَى كَلِمَةِ الْإِخْلَاصِ، وَعَلَى دِينِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ - ﷺ -، وَعَلَى مِلَّةِ أَبِينَا إِبْرَاهِيمَ، حَنِيفاً مُسْلِماً وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ»[٢]

مونږ د اسلام پر فطرت، د اخلاص پر کلمه، د محمد ﷺ پر دین او د خپل پلار ابراهیم علیه السلام -چې له شرک څخه پاک مسلمان و او له مشرکانو څخه نه و- پر ملت شپه کړه.

١٧- «سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ»[٣] سل ځله

ژباړه: الله تعالی لره پاکي او د کمال صفتونه دي.

١٨- «لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ»[٤] لس ځله یا د ناراستی پر مهال یو ځله[٥]

---

(١) سنن ابي داود: ٥٠٨٤

(٢) مسند احمد ١٥٣٦٠

(٣) مسلم: ٢٦٩٢ په دغه حدیث کې دا هم دي: «چاچې سهار او ماښام سل ځله وویله نو د قیامت په ورځ به له ده څه د هیڅ چا عمل غوره نه وي مگر هغه سړی چې د ده په څې یې ویلې وي یا له ده زیات ویلي وي»

(٤) صحيح الترغيب والترهيب: ١-٢٧٢

(٥) سنن ابي داود ٥٠٧٧، ابن ماجه ٣٧٩٨ احمد ٨٧١٩

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: لـه اللـه تعالـی پرتـه بـل څـوک د بندګـی لایـق نـه شـته، یواځـې دی، شریـک یـې نـه شـته، د هغـه لپـاره پاچاهـي او ثنـاء ده او هغـه پـر هـر څـه د قـدرت خاونـد دی.

۱۹- «أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ»(۱) سل ځله

ژباړه: زه لـه اللـه تعالـی څخـه بښـنه غـواړم او هغـه تـه توبـه وباسـم.

۲۳- «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللَّهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ»(۲) درې ځله

ژباړه: زه د اللـه تعالـی پـه هغـو کلمـو پـورې پنـاه نیسـم چـې پـوره دي لـه شر د هـر هغـه څـه څخـه چـې اللـه تعالـی پیـدا کـړي دي

۲۴- «اللَّهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ ﷺ»(۳)، لس ځله

یا الله تعالی ته زموږ پر نبي محمد ﷺ درود او سلام ولیږه.

---

(۱) صحیح بخاري: ۶۳۰۷، صحیح مسلم: ۲۷۰۲

(۲) مسند احمد: ۷۸۹۸ په دغه حدیث کې دا هم راغلي: «چا چې دا دعاء بیګاه درې ځله وویله نو په دغه شپه کې به ورته د تبې ناروغي ضرر ونه رسوي» دغه حدیث د سننو نورو کتابونو هم روایت کړی دی

(۳) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «چا چې پر ما سهار مهال لس ځله او بیګاه مهال لس ځله درود وواېه، نو د قیامت پر ورځ به یې زما شفاعت راګیر کړي» دا حدیث طبراني په دوه سندونو کې روایت کړی دی، چې یو یې جید دی، مجمع الزوائد: ۱۰-۱۲۰، صحیح الترغیب والترهیب: ۱-۲۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو
صحيح حديث
د نبوت له ميراث څخه دفاع وکړئ

«الله تعالی دې د هغه چا مخ
ښایسته کړي چې زما خبره واوري
او بیا یې نورو ته ورسوي» الحدیث

په ټولنیزه رسنیو کې زمونږ سره د ملتیا لپاره: SahihHadith

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**